مریم ناصحي
ژباړه: فرهاد وياړ

(دويمه برخه)

## ويکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی

د ۱۹۶۰ لسيزې لومړي کلونه وو، چې ويکتور اروپا ته سفر وکړ. د اروپا او امريکا د راک موسيقي په هغو کلونو کې ورځ تر بلې راډيکاله کيدله او د «اعتراض موسيقی» نوم يې پر تندي نغښتی و. په چيلي کې هم د موسيقی نوې بنې ازمېښت کيدلي. د «اينتی ـ لليمانی» او «کويلاپايون» په شان ډلو د چيلي د کارګري او کليوالو سيمو خلکو د هير شويو آوازونو او سازونو د کارولو سره ډېره ليوالتيا درلوده او د هغوی له ژوند او مبارزې څخه يې په خپلې موسيقي کې کار اخيست. په موسيقی کې دا انقلاب، يوازې چيلي ته محدود نه و، بلکې د لاتيني امريکا پراخې برخې تر پوښښ لاندې لرلې او د دې سيمې په سياسي او ټولنيز تلاطم کې ريښې درلودی. لاتينه امريکا، په دې لسيزه کې، د غورځنګونو ډکه وه. خلکو آرام او آرامتيا نه درلوده. هره ورځ د نوي انقلاب، يا د کودتا چې د وينو ويالې يې تويولې او ګڼ شمير خلک يې په ځان کې ډوبول، شاهد وو. ويکتور له دې نارامي وضعي څخه اغيزمن کيدو او له هغې يې رنګ اخيست. اروپا ته په سفر کې و، چې په يو ځای کې يې وويل : « د اعتراض موسيقي» نور نشي کولای ګټوره وي، ځکه چې په دې شرايطو کې د هغې مانا او مفهوم له منځه تللی دی. زما په اند نور بايد د «انقلابي غږ» له اصطلاح کار واخلو.... يو هنرمند بايد د اعتماد وړ پنځونکي او په پرمختللی بنې کې، يو انقلابي وي... هغه څوک چې د وسلوالو چريکانو په شان د واکمن نظم لپاره خطرناک وي، هغه هم د خلکو سره د ټينګو اړيکو له امله.»

ويکتور چې فولکوريکه موسيقي له خپلې مور زده کړې وه، دا يې هم په خپلې زده کړې ورزياته کړه چې له خپل ګيتار او ترانو څخه د ستمګرانو په ضد او د خپلو خلکو د رنځ او بيوزلي پای ته رسولو په موخه د وسلې په شان کار واخلي. په يو ځای کې ليکي: « له هغې وروسته چې سترګې مې نړی ته خلاصې کړې، په خپل هيواد چيلي کې د ټولنيزې بې عدالتي، بيوزلې او بدمرغی شاهد يم. همدا لامل دی چې خلکو ته د سندرغاړی اړتيا احساسوم. زه پياوړی باور لرم، چې انسان د خپل ژوند په بهير کې بايد د عدالت لپاره مبارزه وکړي، څو آزاد شي.»

ويکتور په خپلو هڅونکو ترانو سره کوښښ کاوه چې د چيلي کارګر، زيارکښ او محروم خلک د خپل دوزخي وضعيت په ضد و هڅوي او د پابلو نرودا په وينا: د هغوی خوندي هيلي خروبی کړي. د دې هڅوني لپاره يې سرتيرو ته داسي نصحيت کاوه:

**ای سرتیری پر ما ډزې مه کوه...**

**زه پوهیږم چې لاسونه دې رپیږي...**

**ما مه وژنه!**

**زه ستا ورور یم.**

ویکتور خپلي لومړنی ثبت شوی تراني په ۱۹۶۶ کال کې خپرې کړی. په همدې کال کې د «کویلا پایون» ډلې سره یوځای شو او د ۱۹۶۹ کال پورې یې د دې ډلې د هنري مدیر په توګه فعالیت وکړ. یو کال وروسته، چه ګوارا په بولیویا کې ووژل شو. ویکتور د چه ګوارا په ویر کې یوه ترانه وویله چې د ثبت کمپنی د مخالفت له امله، په ترانې کې د دې مبارز نوم ته د مستقیمې اشارې شونتیا نه وه. خو سره د دې، دې ترانې د چیلي کیڼ فعالین او خلک ډیر تر اغیزې لاندې راوستل. ۱۹۶۹ کال، د چیلي دولت په ضد د سیاسي ځواکونو د فعالیت یو ډیر مهم تاریخي وخت و. په دې کال کې، د چیلي د کورنیو چارو وزیر، پرس سوخبیس د پولیس ځواکونو ته دستور ورکړ چې پر هغو کارګري او زیارکښه کورنیو برید او نابودکړي چې په «پورتو مونت» کې ځانته کورونه جوړ کړي وو. د یو نهه میاشتني ماشوم په ګډون اوه کسان د پولیس ځواکونو په دې جنایتکارانه برید کې ووژل شول. چیلي قهرجنه وه. ویکتور د «پورتو مونت په اړه پوښتنې» په نامه ترانه وویله، چې په هغه کې پرس سوخبیس د یو جنایتکار په توګه معرفي کیده:

**د سویل تول بارانونه به**

**ستا د لاسونو د پریمنځلو لپاره بس نشي**

«د پورتو مونت په اړه پوښتنې» په چټکۍ سره په ټولنه کې لاره پیدا کړه او پر شونډو زمزمه شوه. ویکتور نور نو د محرومو خلکو ګران ترانه ویونکی او د چیلی کارګري طبقې په زړه کې یو انقلابي مبارز و او همدا کافي و چې د چیلي ښیي او پانګوال ګوندونه له هغې کرکه ولري. د «د پورتو مونت په اړه پوښتنې» ترانې شهرت لامل شو چې ښیي لاسي ډلې، دا د واکمن نظام ساتونکي، یوه شپه پر ویکتور  په واټ کې برید وکړي او هغه ووهي. د شپې پالونکو د دې کرغیړن برید په برابر کې، دا د ویکتور لوړ فریاد و چې په چیلي کې یې انګازې جوړې کړې:

**زما پوښتنه دا ده**

**هیڅکله مو فکر کړی چې دا تاتوبی زموږ شتمني ده**

**د هغه چا شتمني ده چې لویه برخه یې په واک کې لري**

**.... دیوالونه رنګ کړئ**

**هغه ویجاړ کړئ**

**دا تاتوبی زموږ شتمني ده.**

په همدې کلونو کې د سوسیالیزم سره د ویکتور آشنایي، د هغې پر فکر او ژوند ژوره اغیزه پریښوده او د چیلي کمونیست ګوند سره یوځای شو. د امریکا د متحدو ایالتونو «د خلوت انګړ» باندې د لاتیني امریکا د بدلولو په وړاندې د «انقلابی غږ» د بهیر د هنرمندانو مقابلي، د ویکتور ترانو ته د آزادی او عدالت په لاره کې، امپریالیستي ضد هویت وروبخښو. هغه ویل: «په دې باور نه یم چې انقلابي سندرغاړی معني یوازې  د سیاسی سرودونو د ویلو سره مترادف وي. انقلابي ګري یعني د امپریالیزم له داړلو ښخه د خلکو د اړړښتونو ژغورل.» په ۱۹۶۹ کال کې، کمونیست ګوند، د سوسیالیستونو او د چیلي نورو کیڼ اړخو ډلو په شمول د «ولس اتحاد»  (United Popular) په نامه د یوې ټلوالي بنسټ کیښود. دا ټلواله یو کال وروسته د چیلي د ولسمشری لپاره د خپل نوماند په توګه د سالوادور آلنده معرفي کولو

سره ټاکنيزو سياليو کې ورګډه شوه. ويکتور چې تر دې وخت پورې د خپلو کړنو ډېره برخه د تئاتر د ننداري په برخه کې متمرکز کړې وه، د پراخو مخاطبينو په موندني کې د ننداري د محدوديتونو په پوهيدو او له هغه ځايه چې په دې ښه پوهيده چې د موسيقی سره به وتوانيږي د ولسي پرګنو سره پراخې اړيکې ټينګې کړي، په ۱۹۷۰ کال کې د تئاتر ننداره خوشې کړه او ځان او خپلې لمبه وهونکی او هڅونکي تراني او ګيتار يې د چيلي د بيوزلو خلکو د مخ په ودې انقلابي غورځنګ لپاره وقف کړ.

**زما شعر د هيڅ چا په مدحه کې نه دی**

**او د دې لپاره يې نه وايم چې پردی وژاړي**

**زه د خپل ټاټوبي يوې وړې او لرې برخې ته شعر وايم**

**که څه هم يوه کوچنې تراړه ده**

**خو ژوروالی يې پای نلري**

**زما شعر د ټولو شيانو پيلامه او پای ده**

**له ميرانی ډک شعر**

**هغه شعر چې تل ژوندی او تاند او هڅاند دی**